صاحب امتیاز:
د ا.ا.ا. د اطلاعاتو او رسنیو مرکز
د اړیکې شمېره:
+93 (0) 202100633
ایمیل:
info@gmic.gov.af
آدرس:
مرمرینه مانۍ، بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ، کابل - افغانستان

یوولسمه ګڼه

# ارګ پاڼه



د افغانستان اسلامي امارت
د اطلاعاتو او رسنیو مرکز

د تأسیس کال: ۱۴۴۳ هجري قمري - ۱۴۰۰ هجري شمسي - 2021 میلادي | د چاپ نیټه: شعبان المعظم ۳، کال ۱۴۴۳ هجري قمري

## د اسلامي امارت د کابینې غونډه ترسره شوه



د اسلامي امارت د کابینې ۲۵مه غونډه د رئیس الوزراء محترم ملا محمد حسن اخوند په مشری دائره شوه.
په پیل کې د ریاسة الوزراء اداري مرستیال محترم مولوي عبدالسلام حنفي د تشکیلات کمیسیون کاري راپور وړاندې کړ، د یاد کمیسیون لخوا شوو پریکړو باندې بحث وشو او له کافي غور وروسته تصویب شوې، ورپسې د لویې څارنوالۍ د فعالیت، له پخوانۍ ادارې سره د پخوانیو زنداني مجاهدینو د دوسیو سرنوشت تاکل، پاتې ۵

## پوهنتون‌های دولتی افغانستان دوباره به روی محصلان باز گردید



دختران و پسران که برای از سر گیری درس‌های شان به پوهنتون دولتی کابل آمده اند، از امارت اسلامی می‌خواهند تا سهولت‌های بیشتری در دوران تحصیلی برای شان فراهم سازد.
امارت اسلامی با بازگشایی پوهنتون ها، امیدها را برای دختران و پسران محصل در کشور دوباره زنده کرد.
شکریه حجت، که محصل پوهنځی محیط زیست پوهنتون تعلیم و تربیه کابل بود، یکی از محصلان است که به صنف‌اش برگشت. بقیه ۲

## روزانه ۵۰۰ جلد پاسپورت در کابل توزیع میگردد

محترم عالم گل حقانی رییس عمومی پاسپورت می گوید که روزانه ۵۰۰ جلد پاسپورت به باشنده‌گان کابل توزیع می شود.
محترم حقانی می گوید که در حال حاضر، تنها برای کارمندان دولتی، مریضداران و ورزشکاران روزانه پاسپورت توزیع می گردد و قرار است روند توزیع پاسپورت برای عموم شهروندان طبق یک برنامه منظم آغاز گردد. #

## پر پوهو او مسلکي هېوادوالو غږ کوم چې هېواد دې نه پرېږدي او د نورو هېوادونو پر ځای دې د خپل هېواد د ابادولو لپاره په افغانستان کې پاتې شي.

محترم ملا عبدالغني برادر، د ریاست الوزرا اقتصادي مرستیال

## دیدار معاون اداری ریاست الوزراء با سفیر قطر مقیم کابل

محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء با محترم سعید بن مبارک الخیارین الهاجر سفیر کشور قطر مقیم کابل، در ارگ دیدار نمود. بقیه ۲

## افغانستان د داخلي عوایدو پر مټ خپل نظام په پښو درولای شي. اوس روڼتیا او شفافیت موجود دي او دولتي عواید نور د هیچا شخصي جیبونو ته نه ځي.

محترم مولوي عبدالسلام حنفي، د ریاست الوزرا اداري مرستیال

## تلاش هیأت عالی رتبه امارت اسلامی بخاطر نجات کودکی که در ولایت زابل در چاه افتیده بود، نمایانگر توجه و ارزش امارت اسلامی به اطفال و زندگی آنان می باشد.

محترم مولوی عبدالکبیر معاون سیاسی ریاست الوزراء

## امریکا په افغانستان کې د سوداګرۍ د اسانتیا لپاره نوی جواز صادر کړ

د امریکا د خزانې وزارت په دې وروستیو کې په افغانستان کې د سوداګرۍ د اسانتیا لپاره عامه جواز صادر کړ.
د امریکا د خزانې وزارت له خوا په یوه خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي، چې د نوي جواز له مخې، مالي بنسټونه، نادولتي موسسې، پاتې ۵

## صلیب سرخ: ۲۴ میلیون تن در افغانستان به کمک‌های بی درنگ نیاز دارند

کمیته بین المللی صلیب سرخ میگوید که بیست و چهار اعشاریه چهار میلیون تن در افغانستان به کمک های بی درنگ بشر دوستانه نیاز دارند.
در همین حال نور آغا صاحب زاده، سخنگوی جمعیت حلال احمر افغانی، در این بقیه ۲

## دیدار معاون سیاسی ریاست الوزراء با هیأت یونیسف

محترم مولوی عبدالکبیر معاون سیاسی ریاست الوزراء امارت اسلامی افغانستان با کاترین ام راسل رئیس اجرایی یونیسف (صندوق کودکان سازمان ملل)، عمر عبدی معاون رئیس اجرایی یونیسف، دیبورا لاینز نماینده خاص ملل متحد برای افغانستان و خانم کرسی مدی بقیه ۵

## د اقتصاد وزارت په پام کې لري چې سوداګرو ته اسانتیاوې برابرې کړي

د اقتصاد وزارت وایي، په افغانستان کې د پانګونې د لېوالتیا په موخه ټولو کورنیو او بهرنیو سوداګرو ته د لا ډېرو اسانتیاوو د برابرولو په موخه یې یوه نوې طرحه چمتو کړې ده.
د وزیر د مرستیال په وینا اوس پاتې ۵

## په تېرو ٦ میاشتو کې له یو میلیون ډېرې برېښنایي پېژندپاڼې وېشل شوي

د افغانستان د احصائیې او معلوماتو ملي اداري ویلي، چې په تېرو شپږ میاشتو کې له یو میلیون ډېرې برېښنایي پېژندپاڼې وېشل شوې دي.
یادې ادارې څرګنده کړې؛ تر ټولو ډېرې برېښنایي پېژندپاڼې په کابل، کندهار، هرات پاتې ۵

## در پنج ماه اخیر برای بیش از ۴۴۷ هزار تن نیازمند در سراسر کشور مواد خوراکی و غیرخوراکی مساعدت شده است.

جمعیت حلال احمر افغانی

## سومین محموله کمک‌های ترکیه به افغانستان ارسال شد



رسانه‌های ترکی گزارش داده اند که سومین محموله کمک‌های بشردوستانه ترکیه به افغانستان ارسال شده است. به گزارش خبرگزاری آناتولی، این محموله ۹۹۴ تنی شامل مواد غذایی، پوشاک، لوازم صحی و مواد ضدعفونی‌کننده است که با هماهنگی بقیه ۲

## دیدار معاون اداری ریاست الوزراء با سفیر قطر ...

در این دیدار، هر دو جانب، در خصوص تقویت هرچه بیشتر روابط میان قطر و افغانستان، افزایش تعاملات تجارتی و فراهم نمودن زمینه‌های خوب برای جلب سرمایه‌گذاری، بحث و تبادل نظر نمودند.
معاون ریاست الوزراء ضمن قدردانی از کمک های بشردوستانه قطر با افغانستان؛ از آن کشور خواست تا در عرصه های تعلیمی، معالجه معتادین و رسیده گی به وضعیت ایتام و معلولین، توجه بیشتر نماید. #

## ناروې: په افغانستان کې له ملکي وګړیو سره...

به له خوار ځواکۍ سره مخ شي.
انیکن هویټفیلډ وایي: د افغانستان ملکي وګړي د ژمي په دې سختو میاشتو کې مرستو ته اړتیا لري. د ناروې بشردوستانه ملګري د خوندیتوب، خواړو او طبي مرستو په برخه کې خورا زیان منونکیو خلکو ته د ژوند ژغورنې بشري مرستې چمتو کوي، چې پر نورو اړتیاوو سربېره به پرې د ماشومانو د روغتیایي خدماتو کچه لوړه شي.
بشري مرستو ته دغه ۱۰ میلیون ډالر د ناروې د مهاجرینو شورا، د ناروې د سره صلیب ادارې، د ماشومانو د ژغورنې ادارې او یو شمېر نورو ادارو ته‌ر وهلی دی. #



# د حوت لسمه، له اشغال څخه د افغانستان د خلاصون ورځ

د حوت لسمه، د هېواد په تاریخ کې یوه زرینه ورځ ده. دا ورځ د اشغال پر وړاندې د افغانانو د رېښتني مبارزې، شاهکاریو او میړانې ښکارندویي کوي.
په دې ویاړلې او تاریخي ورځ، د قطر پلازمینه دوحه کې د امریکا متحده ایالتونو او اسلامی امارت ترمنځ د أمریکایي اشغال د خاتمې تاریخي تړون لاسلیک شو. د دې تړون له مخې، په أفغانستان کې د اشغال شل کلنه دوره پای ته ورسېده.
مجاهدینو دخدای په کومک، په خپل مټ، غیرت، شهامت او د توري په زور د هېواد خپلواکي ترلاسه او د افغانانو لوی أرمان یې ور پوره کړ،
او اوس د قلم په څوکه نه یواځې د هېواد د خپلواکۍ ساتنه کوي بلکې د افغانستان د پرمختګ ، سوکالۍ او د سیمې او نړۍ له هېوادونو سره د رېښتونو اړیکو او تعاملاتو د تامین او پیاوړي کولو لپاره جدي هڅې رواني کړې دي.
د تاریخ په اوږدو کې افغانستان له راز راز کړاونو او ننګونو سره مخ شوی، سربېره پر دې چې افغانانو د هر اشغال پر وړاندې د نړۍ زبرځواکونو ته غاښ ماتونکی ځواب ورکړی، خو په تېرو څو لسیزو کې د دې هېواد د اساسي پرمختګ او د افغانانو د سوکالۍ او هوساینې لپاره څرنګه چې لازمه وه کار نده ترسره شوی او له بده مرغه د تاریخ په اوږدو کې ګڼ شمېر فرصتونه له لاسه تللي دي.
افغانان غلیم شړونکی او سوله او امن غوښتونکی ملت دی، دا چې اوس تازه ارام او هوسا ژوند تجربه کوي، باید نړۍ یې لاس نیوی وکړي او د افغانستان د اساسي پرمختګ او هوساینې لپاره جدي او صادقانه هڅې پیل کړي.
د اسلامي امارت لید لوری په اوږد مهاله موده کې د افغانستان خودکفایي ده او همدارنګه د سیمې او نړۍ له هېوادونو سره د ښو، حسنه او استراتیژیکو اړیکو ساتل او پالل دي. نو په کار ده چې، د سیمې او نړۍ هېوادونه د افغانستان لاسنیوی وکړي ترڅو له دې لارې نه یواځې افغانستان خود کفایي، تعالي او ترقي ته ورسیږي، بلکې سیمه او نړۍ د افغانستان د جغرافیوي موقعیت د مزایاوو څخه په پوره توګه برخمنه شي. #

## پوهنتون‌های دولتی افغانستان دوباره به روی...




او می‌گوید از بازگشت به تحصیل خوشحال است.
حسنیه معتصم، می گوید، ما امید خود را از دست داده بودیم و همه روزه شایعات پخش می شد که دیگر درس و تحصیل برای دختران مساعد نخواهد شد.
حلیمه معتصم می گوید: خوشحال هستم که درس ها دوباره آغاز شد، استادان حاضر شدند که برای ما درس بدهند و از اینکه به حق اولیه خود (تحصیل) دسترسي پیدا کردیم، تشکر می کنم.
پوهنتون کابل بزرگترین مرکز تحصیلی افغانستان است؛ جاییکه هزاران محصل در رشته های مختلف مصروف فراگیری تحصیلات عالی می باشند. #

**موږ هغه وخت پر ځان بسیا کېدلای شو، چې انجینران، ډاکټران، اقتصاد پوهان او متخصصین مو خپل ولس ته خدمت وکړي.**

محترم شیخ محمد خالد حنفي، د امربالمعروف او نهی عن المنکر سرپرست وزیر

**امریکایانو به ویل چې که موږ له افغانستان څخه ووځو، یا به افغانستان وېشل کیږي او یا به د سوریې په سرنوشت اخته کیږي. موږ به ورته ویل چې ستاسې په وتلو سره به ان شاءالله هېڅ هم نه کیږي.**

محترم شیخ شهاب الدین دلاور، د کانونو او پټرولیم سرپرست وزیر

## ایالات متحده امریکا: احیای اقتصاد افغانستان...

کاخ سفید می گوید که از همین رو یکی از بخش های مورد توجه اداره جوبایدن افزون بر اطمینان از دسترسی شهروندان افغانستان به کمک های بشری، بلند بردن توانایی های آنان برای انجام فعالیت‌های منظم بازرگانی بوده است.
کاخ سفید در اعلامیه یی، می گوید: مقام های ایالات متحده امریکا تلاش می‌ورزند که مانعی برای فعالیت های بازرگانی و اقتصادی در افغانستان ایجاد نشود. برای جلوگیری از وخیم‌تر شدن بحران بشری، لازم است که اقتصاد افغانستان دوباره احیا شود. در چندین ماه گذشته یکی از بخش‌های مورد توجه اداره جوبایدن نه تنها اطمینان از دسترسی شهروندان افغانستان به کمک‌های بشری، بل بلند بردن توانایی های آنان برای انجام فعالیت‌های منظم بازرگانی بوده است.
از سوی دیگر رییس کمیته جهانی صلیب سرخ پس از دیدار از کابل می گوید: پیام من به تمویل کننده‌گان این است که برای تقویت اقتصاد افغانستان و جلوگیری از فروپاشی خدمات عامه باید بی‌درنگ اقدام کنند. #

## د اروپا د سولې انستیتیوت اجرایي رئیس سره د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال کتنه

د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال محترم مولوي عبدالکبیر د اروپا د سولې انستیتوت اجرایي رئیس مایکل کټینګ سره وکتل.
د دې کتنې په پیل کې، محترم مولوي عبدالکبیر افغانستان سره د اروپایي ټولنې د مرستو په مننې په راتلونکې کې پر اروپایي ټولنې سربېره له نړیوالو او مرستندویه ارګانونو سره د ښو مناسباتو د لرلو هیله وکړه.
نوموړي زیاته کړه، تاسې د یوه ازاد ارګان په توګه کولای شئ د متقابل درناوي پر بنسټ د افغانستان اسلامي امارت، اروپایي هیوادونو او نړیوالو ترمنځ په بېلابېلو برخو کې د اړیکو د ښه کېدو په خاطر د واسط رول ولوبوئ، ځکه اسلامي امارت له نړۍ او ټولو ګاونډیانو سره نېکې او حسنه اړیکې غواړي.
محترم مولوي عبدالکبیر څرګنده کړه، د اسلامي امارت له راتګ مخکې په افغانستان کې زیاتې ستونزې موجودې وې، خو د اسلامي امارت په راتګ سره خلک د امنیت له تامین خوښ دي.
همداراز اروپایي ټولنه دې ډاډه اوسي چې د افغانستان خاوره به د هیچا پر ضد استعمال نشي.
د اروپا د سولې انستیتوت اجرایي رئیس د اروپایي ټولنې او نړیوالو سره د افغانستان اسلامي امارت د اړیکو ښه کېدو ته په اشارې وویل، که څه هم ځینې ستونزې شته، خو د اړیکو د ښه والي په خاطر له یوه بل سره هراړخیزې خبرې او همکارې اړینه ده.
مایکل کټینګ زیاته کړه، په تېرو ۴۳ کلونو کې افغان ملت جنګ ځپلی او اوس د دې وخت رارسېدلی چې په سوله کې ژوند وکړي، اروپایي هیوادونه هم غواړي له افغانستان سره مرسته وکړي.#

## د افغانستان او ترکمنستان چارواکو تر منځ د ټاپي پروژې...

پروژې د امنیتي پلان په اړه د ترکمنستان چاروکو ته معلومات ورکړل او دواړو لوریو ټینګار کړی چې په نږدې راتلونکې کې به د ټاپي پروژې عملي چارې پیل شي.
اسلامي امارت مشرتابه پلاوی اړونده مسئولینو ته لارښوونه کړې ترڅو د ملي او سیمه ییزو پروژو چارې ژر تر ژره پیل کړي.
اقتصادي کارپوهان په دې باور دي چې د ټاپي پروژې د عملي چارو په پیلېدو سره به د افغانستان او سیمې هېوادونو اړیکې لا پراخې او د اقتصادي موثریت سربېره، ډېری هېوادوالو ته به کاري فرصتونه برابر شي. #

**د حوت لسمه د مغروري امریکا د بې ساري ماتې او د افغان غیرتي ولس د سرلوړی او بریا ورځ ده کوم ملتونه چې د ځان او خپلو وینو په قیمت آزادي اخلي تل به سر لوړي او بریمن وي.**

محترم قاري محمد یوسف احمدي
د اطلاعاتو او رسنیو مرکز رئیس

## صلیب سرخ: ۲۴ میلیون تن در افغانستان به کمک‌های...

باره می گوید: در پنج ماه اخیر برای بیش از ۴۴۷ هزار تن نیازمند در سراسر کشور مواد خوراکی و غیرخوراکی مساعدت شده است.
با وصف این همه مشکلات اقتصادی در افغانستان، جو بایدن رییس جمهور ایالات متحده امریکا در روز های پسین با امضای فرمانی از هفت میلیارد دالر دارایی افغانستان، نیمی آن را برای کمک های بشری به افغانستان تخصیص داده است و احتمال می رود که نیمی دیگر این پول به بسته گان قربانیان حمله های یازدهم سپتامبر داده شود. #

## سومین محموله کمک‌های ترکیه به افغانستان...

سازمان حوادث غیرمترقبه "آفاد" و حمایت ۱۹ سازمان خیریه ترکی جمع آوری شده است.
مقام‌های ترکی گفته که چهارمین محموله کمک‌های بشردوستانه ترکیه نیز به زودی به افغانستان ارسال خواهد شد. این درحالی است که اولین و دومین محموله‌های کمک‌های بشردوستانه ترکیه به افغانستان رسیده است. #

**امارت اسلامی در صفوف خویش به جوانان نابالغ اجازه نمی دهد و به عوض کار کودکان، حامی تعلیم آنان است.**

محترم مولوی عبدالکبیر معاون سیاسی ریاست الوزراء

**د ۱.۱. له واکمنۍ وروسته، ۵۵۰ زره وګړي له ایران او پاکستان څخه بېرته خپل هېواد ته راستانه شوي دي.**

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د حوت د لسمې په اړه د اسلامي امارت...

او مجاهد ملت ته مبارکي وایي.
د حوت لسمه زموږ د هیواد دنورو تاریخي ورځو په څېر د افغان مجاهد ملت د شاهکارونو او میړانو ښکارندویي کوي او د افغان مسلمان او په ازادۍ مین ملت د هویت ساتلو ورځ ده.
الحمدلله افغان مسلمان اولس په تېره یوه پېړۍ کې درې ځله د بې ساري قربانیو په ورکولو سره د جهاد او مبارزې په ډګر کې خورا ښه امتحان ورکړ او د خپل هیواد ازادي او خپلواکي یې په ویاړ سره وګټله.
دې ورځې وښوده، چې افغانانو کې د ازادۍ غوښتنې کلکه اراده موجوده ده او د خپل دین او هیواد د ساتنې لپاره قوي عزم او پوخ هوډ لري.
دا چې افغانانو په تېرو سلو کلونو کې په پرله پسې توګه یرغلګر ځواکونه په ګونډو کړي او له خپل هیواد څخه یې شړلي او د خپل هیواد ازادي یې ترلاسه کړې ده، په کار ده، چې نور نو تیریګر هیوادونه له افغانانو سره د دښمنۍ او کینې لار پرېږدي او له اسلامي امارت سره د متقابل درناوي په بنسټ ولاړ تعاملات پیل کړي.
افغانان سوله او امن غوښتونکی ملت دی، داچې اوس تازه ارام او هوسا ژوند تجربه کوي، باید نړۍ یې لاس نیوی وکړي او د فرصتونو په برابرولو کې ورسره مرسته وکړي.
د افغانستان اسلامي امارت د خپل موقف او پالیسۍ له مخې د بل هیڅ هیواد په وړاندې د ضرر او تهدید پیښولو اراده نه لري، همدا راز له نورو هیوادونو څخه هم غواړي، چې له افغانانو سره د ښو او حسنه اړیکو دروازې پرانیزي، تر څو د ټولو هغو ننګونو چې احتمال یې لیدل کیږي، مخه ونیول شي.
د افغانستان اسلامي امارت تر قیادت لاندې مجاهد ملت به په راتلونکې کې هم د پخوا په شان د دښمنانو د هر راز نیرنګونو او دسیسو په وړاندې حساس او ویښ وي او د خپلو اسلافو د جهادي فکر او ازادۍ غوښتنې لار به تعقیبوي ان شاء الله.

## معاون اداری با رئیس عمومی صلیب سرخ...

عمومی صلیب سرخ دنمارک و مشاور کمیته جهانی صلیب سرخ در افغانستان نیز حضور داشتند، دیدار کرد.
رابرت ماردینی با ابراز امتنان از همکاری امارت اسلامی، در خصوص کارکرد ها و برنامه های کمیته صلیب سرخ معلومات ارائه نمود. وی گفت که از زمان حاکمیت امارت اسلامی در افغانستان، معاشات ۱۰ هزار نرس و داکتران ۲۸ شفاخانه را در سراسر کشور پرداخت گردیده و در هماهنگی با وزارت صحت عامه، همکاری با 110 کلینیک در عرصه های تجهیز و فراهم نمودن خدمات صحی ادامه دارد.
ماردینی همچنان اضافه کرد که کمیته صلیب سرخ تلاش دارد تا جامعه بین المللی را تشویق کند، ضمن دوام کمک های بشردوستانه با افغانستان؛ در عرصه های اقتصادی، انکشافی و فعال نگهداشتن سیستم بانکی در این کشور با امارت اسلامی همکاری همه جانبه نمایند.
وی افزود که کمیته صلیب سرخ بین‌المللی در کنار افغان ها ایستاده است و تا آخر سال جاری بخاطر بیشتر نمودن همکاری با سایر بخش ها، بودجه خویش را نیز افزایش خواهد داد.
محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء ضمن خوش آمدید به رئیس عمومی کمیته بین‌المللی صلیب سرخ در جنیوا و هیأت همراهش، گفت که مردم افغانستان در جنگ ۴۳ ساله بسیار درد و رنج دیده اند و در تمام بخش ها خدمات و فعالیت های کمیته بین‌المللی صلیب سرخ قابل قدر می باشد.
محترم مولوی عبدالسلام حنفی از کمیته بین‌المللی صلیب سرخ و جامعه بین المللی خواست تا همکاری های بیشتر شان را بخاطر تداوی و کمک به خانواده های پنج میلیون معتاد که یک میلیون آن را زنان و کودکان تشکیل می‌دهند، انجام دهند و تاکید کرد که مناطق روستایی نیز تحت پوشش فعالیت های آن نهاد قرار گیرند.
معاون اداری ریاست الوزراء گفت که امارت اسلامی بخاطر تقویت سیستم بانکداری، طرزالعمل های را ساخته است و در این بخش از جامعه بین المللی نیز خواستار همکاری گردید.
محترم مولوی حنفی در اخیر صحبت هایش افزود که افغانستان می خواهد به عنوان عضو ملل متحد، با تمام کشورهای منطقه و جهان روابط نیک و حسنه داشته باشد و بر گسترش این روابط بر اساس احترام متقابل، متعهد میباشد. #

## د افغانستان بانک: د امريکا د ماليې وزارت...

صادر کړ چې له مخې په هیواد کې پراخو سوداګریزو فعالیتونو ته آسانتیاوې برابروي.
د دغه جواز له مخې افغانستان کولای شي له ټولو هیوادونو سره سوداګریزې راکړې ورکړې ولري او ټول خصوصي بانکونه خپلو فعالیتونو ته له نړیوالو بانکونو سره د پخوا په څېر دوام ورکولای شي.
همدا راز د دغه جواز له مخې پر ټولو حکومتي ادارو خصوصي بانکونو هر ډول بندیزونه لیرې شوي دي.
د افغانستان بانک ویلي دي چې دا جواز د هغو خصوصي شرکتونو او موسسو فعالیتونو ته چې د افغانستان له دولتي ادارو سره کارکوي، دګمرک محصول، مالیه او نورو لګښتونو کې آسانتیاوې برابروي. په دې جواز کې واضحه شوې ده چې مالي اداري، ملي او نړیوالې موسسې او د خصوصي سکتور شرکتونه په بیلابیلو برخو کې معاملې او مالي فعالیتونه له افغانستان سره ترسره کولای شي.
همدا راز په دغو معاملو او مالي فعالیتونو کې دولتي، خصوصي او سوداګریزه بانکوالي، د زیربناوو پراختیا او ساتنه، سوداګریزه راکړه ورکړه، د ترانسپورتي سیستمونو د خوندیتوب او حفظ او مراقبت عملیات او د مخابراتو او معلوماتو برخې کې معاملې هم شاملې دي.
د یادونې وړ ده چې د امریکا د مالیې وزارت په اعلامیه کې ویل شوي دي چې د دغه جواز له مخې خصوصي سکتور او موسسې د افغانستان له دولتي ادارو په ځانګړي ډول د پوهنې، اوبو او انرژۍ، مالیې، کرنې اوبو لګولو او مالدارۍ، عامې روغتیا، اقتصاد، کورنیو چارو، کډوالو او بېرته را ستنېدونکو چارو وزارتونه، د افغانستان بانک، د افغانستان برښنا شرکت او همدارنګه هغه دولتي شرکتونو او تصدیو ته چې د عوایدو راټولو، صادراتو، لیسنس ورکولو، روغتیایي خدمتونو، بانکې لیږد رالیږد، په افغانستان د اقتصادي او مالي فعالیتونو او خدمتونو او یوشمیر نورو هغو معاملو اجازه ورکوي چې د بشري اړتیاوو لپاره ترسره کیږي.
د افغانستان بانک د امریکا د مالیې وزارت دغه اقدام نیک بللی دی او ترې مننه یې کړې ده او غوښتنه یې کړې چې د افغانستان اسعاري زېرمو په اړه بیا کتنه وکړي. #

## په تېرو ٦ میاشتو کې له یو میلیون ډېرې برښنایي...

خوست، ننګرهار او بلخ ولایتونو کې وېشل شوې دي. د دغې ادارې د خبرپاڼې له مخې؛ په ټولو ولایتونو کې د چاپ شویو پېژندپاڼو د وېش لړۍ روانه ساتل شوې ده.
دغې ادارې په ډاګه کړې، چې د کابل په ګډون په ۱۲ ولایتونو کې د برښنایي پېژندپاڼو انلاین غوښتنلیک سیستم هم فعال شوی دی. #

## امريکا په افغانستان کې د سوداګرۍ د اسانتیا...

نړیوال بنسټونه او د خصوصي سکتور شرکتونه کولای شي په پراخو سوداګریزو راکړو ورکړو او فعالیتونو کې برخه واخلي.
د متحده ایالاتو د خزانې وزارت ویلي چې شرکتونه او ادارې آن د اسلامي امارت له حکومت سره سوداګرۍ کولی شي.
دا جواز د خصوصي شرکتونو او مرستندویه موسسو فعالیتونه اسانه کوي چې د دولتي ادارو سره کار کوي. پدې فعالیتونو کې د مالیاتو ورکړه، ګمرکي تصفیه او نور نورمال تادیات شامل دي.
د امریکا د خزانې وزارت ویلي چې د افغانستان د بیارغونې لپاره به له افغانانو سره کار وکړي.
دغه وزارت لا د مخه افغانستان ته د بشري مرستو د رسولو د اسانتیا لپاره څو نور جوازونه هم صادر کړي وو. #

## د اقتصاد وزارت په پام کې لري چې سوداګرو ته...

سوداګر کولای شي له امنیتي اندېښنو پرته په افغانستان کې پانګونه وکړي.
د اقتصاد وزارت مرستیال عبداللطیف نظري وویل: موږ غواړو چې سوداګري له سیاسته لرې وي، خصوصي سکتور دې په سوداګرۍ کې فعاله او پیاوړی او د حکومت له خوا یې ملاتړ وشي.
له بلې خوا د نادولتي موسسو د فعالیتونو د انسجام ریاست وایي، په دغه وزارت کې شاوخوا ۲۲۰۰ کورني او بهرني بنسټونه ثبت دي، چې د اسلامي امارت له حاکمیت وروسته، ۱۳۴ غیر دولتي موسسې په هېواد کې خپل فعالیت بېرته پیل کړی دی.
په همدې حال کې د اقتصاد وزارت ټینګار کوي چې د هېواد د کورنیو عایداتو د زیاتوالي په موخه یې یو شمېر پراختیایي پروژې په لاره اچولي دي. #

## دیدار معاون سیاسی با هیأت یونیسف...

رئیس دفتر رئیس اجرایی یونیسف، در قصر سپیدار دیدار کرد.
در این دیدار، کاترین ام راسل در مورد فعالیت های یونیسف در افغانستان در بخش های معارف، تغذی و عرضه خدمات صحی معلومات داده افزود که افغانستان برای یونیسف اهمیت به سزای دارد و به همین دلیل نخستین سفر اش را به این کشور انجام داده است. وی تعلیم کودکان را اولویت کاری یونیسف پنداشته و از پرداخت معاش پنج ماهه معلمین از جانب وزارت معارف، اظهار سپاس و قدردانی کرد.
محترم مولوی عبدالکبیر معاون سیاسی ریاست الوزراء ضمن خوش آمدید به رئیس اجرایی یونیسف و هیأت همراه اش، از خدمات و فعالیت های 65 ساله یونیسف در افغانستان و اولین سفر کاترین راسل به این کشور اظهار امتنان نموده افزود که امارت اسلامی حامی تعلیم و تربیت کودکان بوده و از یونیسف می خواست تا در کنار تعلیم، در زمینه صحت طفل و مادر نیز توجه مزید نماید.
وی افزود که امارت اسلامی در صفوف خویش به جوانان نابالغ اجازه نمی دهد و به عوض کار کودکان، حامی تعلیم آنان است. تلاش هیأت عالی رتبه امارت اسلامی بخاطر نجات کودکی که در ولایت زابل در چاه افتیده بود، نمایانگر توجه و ارزش امارت اسلامی به اطفال و زندگی آنان می باشد. وی همچنان افزود که امارت اسلامی از برنامه های موثر یونیسف که در مغایرت با دساتیر اسلام نباشد، حمایت می کند.
معاون سیاسی ریاست الوزراء گفت: به ادامه گشایش پوهنتون های شخصی، پوهنتون های دولتی نیز آغاز شده اند و پروسه بازگشایی مکاتب دخترانه نیز ادامه دارد. ما می خواهیم که مانند پسران، دختران نیز به مکتب بروند. زن حیثیت مادر، خواهر و دختر را دارد، برای ما بسیار قابل احترام است و از تعلیم آنان حمایت می کنیم.
نماینده خاص ملل متحد برای افغانستان گفت که امسال در تمام افغانستان یک واقعه مثبت پولیو ثبت شده است و اگر پولیو در افغانستان به صفر برسد، برای حکومت یک دست آورد مهم خواهد بود و برای جهانیان یک پیام بزرگ خواهد داشت.
به همین ترتیب، رئیس اجرایی یونیسف گفت: ما تلاش داریم تا در کنفرانس که قرار است در ماه مارچ برگزار گردد، برای افغانستان کمک های بیشتر جلب کنیم و تاکید ورزید که در خصوص همکاری صادقانه امارت اسلامی با یونیسف و سازمان ملل متحد در زمینه تسهیل دسترسی به تعلیم، صحت و رسانیدن غذا و کمک های بشری به افغانان، معلومات دقیق و همه جانبه را در این کنفرانس نیز ارائه خواهیم کرد.
در اخیر این دیدار محترم مولوی عبدالکبیر معاون سیاسی ریاست الوزراء با اشاره به اظهارات نمایندگان ملل متحد و رئیس اجرایی یونیسف گفت که این چنین عملکردها راه را برای جلب همکاری های بیشتر فراهم خواهد ساخت و امارت اسلامی متعهد به دوام همکاری های بیدریغ و صادقانه با سازمان ها و جامعه بین المللی می باشد. #

## روزانه ۵۰۰ جلد پاسپورت در کابل توزیع می گردد.

ریاست عمومی پاسپورت

## کمیته بین‌المللی نجات: غرب صدمات فاجعه باری به افغانستان...

که درخواست سازمان ملل برای ۴ میلیارد دالر در سال جاری، احتمالا به ۱۰ میلیارد دالر در سال آینده افزایش پیدا کند.
دیوید میلیبند، رییس اجرایی کمیته بین‌المللی نجات می‌گوید: کاری که امریکا و متحدانش انجام می‌دهیم اوضاع را برای امارت اسلامی نه بلکه برای افغانها بدتر می کند.
امارت اسلامی هم بی‌درنگ خواستار پایان تحریم‌ها و فشاری‌های اقتصادی از سوی جامعه جهانی و امریکا است، مقام‌های امارت اسلام تاکید می‌کنند که با مسایل بشری نباید برخوردهای سیاسی شود.
این اظهارات در حالی صورت می‌گیرد که قرار است به زودی بریتانیا نشست سازمان ملل برای جلب کمک‌های بشری به ارزش کماکان ۴میلیارد دالر برای افغانستان را میزبانی کند. #

## د اسلامي امارت د کابينې غونډه...



د مصادره اموالو په اړه پریکړه او نورو اړوندو موضوعاتو په اړه بحث او پریکړې وشوې. لویې ښارنوالۍ ته دنده وسپارل شوه چې په دې اداره کې موجودې د پخوانیو په فساد ککړو چارواکو د دوسیو د سرنوشت ټاکلو په اړه څېړنه وکړي او بشپړ راپور یې د کابینې مجلس ته وړاندې کړي.
د مالیې وزارت په مشرۍ هیئت ته دنده وسپارل شوه چې د بشري مرستو اړوند د مالیاتي معافیت موضوع وڅېړي او پایله یې د کابینې مجلس ته وړاندې کړي. دغه راز اقتصادي کمیسیون ته دنده وسپارل شوه چې په حکومتي مغصوبه ځمکو د اشخاصو لخوا د جوړو شویو ودانیو موضوع په دقیق ډول وڅېړي.
د کابینې په مجلس کې د هیواد په نورو اجتماعي چارو او د حکومتي ادارو په ستونزو هم بحث وشو او لازم تصامیم ونیول شول. غونډه د هیواد او ولس د سوکالۍ په دعا پای ته ورسیده. #

## ټولګټو وزارت د رېل پټلۍ په هکله له اوکرایني...

کې ونډه واخلي.
د ټولګټو وزارت ویاند حمیدالله مصباح وایي: اوکرایني پلاوي د دغه وزارت له مشرتابه سره غونډه لرله. دواړو لوریو د سوداګریزو توکو د لېږد، د رېل پټلۍ د انجینرانو د روزنې، د مزار - حیرتان لارې امنیت او د رېل پټلۍ په هکله یې سره خبرې وکړې.
بل خوا ځینې کارپوهان وایي چې د ریل پټلۍ له لارې له نورو هېوادونو سره د افغانستان وصلېدل د راکړې ورکړې د زیاتوالي لار هواروي او د توکو د لېږد لګښت کموي.
د سوداګرۍ او پانګونې خونې سوداګریز مرستیال خیرالدین مایل څرګندوي: موږ باید په ډېریو ولایتونو کې د رېل پټلۍ ولرو او موږ ډېری سرحدونه د اورګاډي پټلۍ له لارې له ګاونډیو هېوادونو او د هغوی له لارې له نړۍ سره ونښلول شي.
بل خوا د سوداګرۍ اوپانګونې خونه وایي چې افغانستان کې د اوسپنې پټلۍ له پراختیا سره به د هېواد صادرات زیات شي او د هېواد صادراتي توکي به نورو هېوادونو ته په کمه موده کې ولېږدول شي.
د سوداګرۍ او پانګونې خونې سرپرست محمد یونس مومند وایي: د اورګاډي پټلۍ غځول د افغانستان د خلکو د اقتصاد په ګټه دي. غواړو چې د اوسپنې دغه پټلۍ وغځول شي. له بېرې وروسته تر ټولو ارزانه او لنډه لار چې سوداګریز توکي مقصد ته رسوي د اوسپنې پټلۍ ده.
افغانستان اوس مهال د حیرتان، آقینې او خواف-هرات د اوسپنې د پټلیو له لارې له ازبیکستان، ترکمنستان او ایران سره وصل دی او د ریل پټلۍ له لارې له سویلي آسیا سره د افغانستان د نښلول کېدو هڅې هم روانې دي. #

## در شش ماه اخیر، ۹۰ مسیر مسدود در ساحات کارته سه، کارته چهار، دارالامان، شهرنو، قلعه فتح الله، کلوله پشته، تایمنی، خیرخانه، وزارت داخله پیشین و دیگر نقاط، از وجود موانع کانکریتی پاکسازی شده است.

شاروالی کابل

# ارګ پاڼه



د افغانستان اسلامي امارت
د اطلاعاتو او رسنيو مرکز



**صاحب امتیاز:** د ا.ا.ا. د اطلاعاتو او رسنيو مرکز
**د اړيکي شمېره:** +93 (0) 202100633
**ایمیل:** info@gmic.gov.af
**آدرس:** مرمرینه مانۍ، بهرنيو چارو وزارت ته مخامخ، کابل - افغانستان


## ناروې: په افغانستان کې له ملکي وګړيو سره بشري مرستې ډېروو



د ناروې د بهرنيو چارو وزيرې انيکن هويتفيلډ څرګندوي، چې ناروې له افغانستان سره خپلې بشري مرستې لس میلیون ډالرو ته پورته کوي.
هغې زياته کړې، چې دا مرستې به د ناروې د بشري ټولنو له لارې تر سره شي.
د ملګرو ملتونو د اټکل له مخې، ۲۴ میلیون افغانان د خوراکي توکو د نه خونديتوب له خطر سره مخ دي او که په روان کال کې پخپل وخت مرستې ور ونه رسېږي؛ يو میلیون ماشومان پاتې ۲

## په افغانستان کې د پانګونې د لېوالتيا په موخه ټولو کورنيو او بهرنيو سوداګرو ته د لا ډېرو اسانتياوو د برابرولو په موخه يوه نوې طرحه چمتو شوې ده.

د اقتصاد وزارت

## کمیته بین‌المللی نجات: غرب صدمات فاجعه باری به افغانستان وارد کرده است

وزیر خارجه پیشین بریتانیا که ریاست اجرایی این کمیته را به عهده دارد در مصاحبه با روزنامه گاردین هشدار داده است که بحران کنونی در افغانستان به حدی عمیق است بقیه ۵

## ایالات متحده امریکا: احیای اقتصاد افغانستان مهم است

ایالات متحده امریکا پس از برداشتن محدودیت ها بر معاملات مالی افغانستان بر احیای اقتصادی این کشور تاکید می ورزد و احیای اقتصاد افغانستان را برای جلوگیری از بحران بشری در این کشور مهم می داند. بقیه ۲

## ټولګټو وزارت د رېل پټلۍ په هکله له اوکرايني شرکتونو سره خبرې

د ټولګټو وزارت وايي چې دغه وزارت د افغانستان د اوسپنې پټلۍ د جوړېدو په تړاو له اوکرايني شرکتونو سره خبرې کړې دي.
د دغه وزارت وياند زياتوي چې د دغو شرکتونو يوه تخنيکي ډله افغانستان ته راغلې ده څو د افغانستان د سوداګرۍ په پراختيا پاتې ۵

## په ټول هېواد کې نږدې ۳ میلیونه کورنۍ بېځایه شوي وګړي شتون لرې او د اسلامي امارت له حاکمیت وروسته، ۲۵۰ زره وګړي خپلو اصلي سیمو ته ستانه شوي او اړينې مرستې يې ترلاسه کړي دي.

د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د افغانستان بانک: د امريکا د ماليې وزارت د وروستي اقدام هرکلی کوو

د افغانستان بانک په يوه اعلاميه کې د امريکا د ماليې وزارت په افغانستان کې د اقتصادي او سوداګريزو فعاليتونو د آسانتيا لپاره وروستي جواز صادرولو هرکلی کړی دی.
امريکا ماليې وزارت يو نوی جواز پاتې ۵

## لکه څرنګه مو چې د الله په مرسته د هېواد په خپلواکي اخيستلو کې پوره وړتيا وښوده، دغسې به يې د ابادولو په برخه کې هم خپل ټول وسايل په کار اچوو او د اقتصادي انکشاف لپاره به پانګونې او پراخه اقتصادي فعاليتونو ته زمينه برابروو.

محترم ملا عبدالغني برادر، د رياست الوزرا اقتصادي مرستيال

## معاون اداری ریاست الوزراء با رئیس عمومی کمیته بین‌المللی صلیب سرخ دیدار کرد

محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء با رابرت ماردینی رئیس عمومی کمیته صلیب سرخ در جنیوا و هیأت همراه اش در حالی که کریستینا کومپولا منشی صلیب سرخ فنلند و اندریس لادیکرل منشی بقیه ۵



## له افغانانو سره د مرستې په لړ کې پاکستان هېواد له افغانستان سره د ۵۰ زره ټنو غنمو مرستې ژمنه کړې چې په لومړۍ جوپه کې ۳٦۰۰ ټنه غنم ننګرهارته راورسيدل. موږ د ورور هېواد پاکستان د دغو مرستو هرکلی کوو او د لازياتو همکاريو غوښتنه ورڅخه کوو.

محترم ذبيح الله مجاهد، د اطلاعاتو او کلتور وزارت مرستيال او د ا.ا.ا. وياند

## هغه افغانان چې په نورو هېوادونو کې په کمپونو کې اوسېږي، بېرته دې هېواد ته راستانه شي. اسلامي امارت عمومي ښښنې ته ژمن دی.

محترم مولوي عبدالسلام حنفي، د رياست الوزرا اداري مرستيال

## د افغانستان او ترکمنستان چارواکو تر منځ د ټاپي پروژې پر امنيت خبرې وشوې

د اسلامي امارت د دفاع او کورنيو چارو وزارتونو مسئولينو د ټاپي پروژې له اجرائيوي مشر او په کابل کې د ترکمنستان له سفير سره د ټاپي پروژې پر امنيت خبرې وکړې.
په دې کتنه کې د دفاع او کورنيو چارو وزارتونو مسئولينو په افغانستان کې د ټاپي پاتې ۲

## د دې ګڼې انځور



### ابوحاتم محمد بن حبان بُستی

إمام علامه حافظ شيخ خراسان أبوحاتم محمد بن حبَّان بُستي خُراساني قاضي، شخصیتی عالم، فاضل، محدث، مؤرخ، جغرافیدان، محقق، شاعر، لغوي، طبیب، فیلسوف، یکی از فقها و صاحب کتب مشهور بوده است.
در سال دوصد و هفتاد و چند هجری قمری در شهر بُست (واقع در ولایت هلمند در جنوب افغانستان) متولد گردیده است.
از أبوأحمد إسحاق بن إبراهيم و أبوالحسن محمد بن عبدالله بن جنید و دیگران مقدمات علوم را فراگرفت، و در سال ۳۰۰ هجری قمری به نیشابور رفت، سفر نیشابور او سرآغاز سفر های علمی او است، وی درتحصیل علم به بسیاری از شهرهای خراسان، ماوراء النهر، عراق، حجاز، شام و مصر سفر کرد.
به گفته سمعانی او در سمرقند و دیگر شهرهای خراسان به قضا پرداخته است.
آخرالامر در شب جمعه ۲۱ ماه شوال سال ۳۵۴ هجری قمری در عمرهشتاد سالگی وفات یافت. و بعد از نماز جمعه در بُست به خاک سپرده شد إمام ابن حبان بستي دارای تالیفاتي بسیار و مشهوری بود که از انجمله کتاب حَدیث صحیح ابن حبان میباشد. #

## د حوت د لسمې په اړه د اسلامي امارت اعلاميه

د حوت مياشتې لسمه د قطر پلازمېنه دوحه کې د امريکا له متحده ايالتونو سره د اشغال د خاتمې د تاريخي تړون له لاسليکولو سره برابره ده.
دغه ورځ چې ياد تړون په کې لاسليک شو، او زموږ د ملت د جهاد او قربانيو له امله، وروسته له شلو کالو څخه د امريکايي ځواکونو اخراج ته زمينه مساعده شوه، د ګران هېواد په تاريخ کې د يوې بلې وياړمنې ورځې په توګه ثبت شوه، چې له امله يې د افغانستان اسلامي امارت ټول افغان غيرتي پاتې ۲